# د ټاکنیزو شکایتونو د کمیسیون غړي احمد ضیا رفعت ژوند لیک

احمد ضیا رفعت د نثار احمد زوی په ۱۳۴۵ لمریز کال د هرات په ښار کې زیږیدلی دی . نوموړي په پنځه لس کلنۍ کې شاعري ته مخه وکړه او د کلاسیک ادبیاتوپه لوستلویې پیل وکړ، په هماغه ځوانۍ کې د افغانستان د ادبي ټولنې د یو تکړه،پیاوړي لیکوال او شاعر په توګه و پیژندل شو. رفعت چې په افغانستان کې د روسانو د شتون سره مخالف و، د( ۱۳۶۶ څخه تر ۱۳۶۷) پورې ایران ته کډوال شو، خو کډوالي یې په هغه هیواد کې مناسب ونه باله او بیرته راستون شو، خو د شعر په قالب کې دهغه وخت په حکومت باندې نیوکو ته یې دوام ورکړ. په ۱۳۶۷لمریز کال کې د ځوانو لیکوالانو ټولنې غړیتوب یې تر لاسه کړ. درې کاله وروسته د نوموړي شعري ټولګه د (فریاد ناشنیده) په نامه د افغانستان د لیکوالانود ټولنې له خوا خپور شو او ادبي جایزه یې تر لاسه کړه. رفعت په ۱۳۷۰ لمریز کال کې د کابل پوهنتون د ادبیاتو په پوهنځي کې شامل او د همدغې پوهنځي نه یې ماستري تر لاسه کړه.

نوموړی د ادبي اثارو د جوړولو تر څنګ ، د ځوان نسل د استعدادونو په روزنه کې یې هم زیاتې هلې ځلې کړې دي. هغه د هرات ادبي ټولنې د مرستیال او وروسته د نوموړې ادبي ټولنې د رییس په توګه و کولای شول چې د هرات ولایت لیکوالان او شاعران په ډیرونا خوالو شرایطو کې یعنی د طالبانو په دوره کې سره را ټول کړي او د ځینو وتلو لیکوالانو په مرسته و توانید چې نوي لیکوال ځوانانو ته د پرمختګ لاره برابره کړي. رفعت د افغانستان د فرهنګپالو ټولنه یې په کډوالۍ کې د نورو څو تکړه لیکوالانو په مرسته جوړه کړه او په خپله د نوموړې ټولنې د انتخابي رییس په توګه و توانید چې فرهنګي ګټور فعالیتونه تر سره کړي.

په افغانستان کې د موقت حکومت راتګ سره سم کابل پوهنتون ته یې مخه کړه او د ادبیاتو په پوهنځي کې تدریس پیل کړ او په عین حال کې د لوړو زده کړو وزارت د خپرونو مشري یې پر غاړه واخیسته او دغه ریاست یې د وزارت په کچه یوې ځانګړې ادارې ته بدل کړ. که څه هم رفعت په پیل کې د افغانستان د نوي اداري څخه ملاتر کاوه او خپله د اضطراري لویې جرګې غړی و، خو په حکومت کې د کمزورتیا د زیاتوالي په لیدلو سره د څلورو کلونو دندې وروسته د لوړو زدکړو وزارت د خپرونو د ریاست څخه یې استعفاً وکړه، او د یو تند لیکوال په توګه په سیاسي وضعیت باندې په نیوکو پیل وکړ او جدي توګه سیاست ته یې مخه کړه او د یو سیاسي منتقد په پوتوګه د رسنیو پام یې ځان ته وګرځاوه . هغه چې پخوا د فرهنګیانو په منځ کې یو پیژندل شوی شخص و، په رسنیو کې د دیر ظاهریدو او په سیاسي وضیعت باندې د نیوکو وروسته یې د خلکو په منځ کې د زیات شهرت پیدا کړ. رفعت د هغو کسانو له ډلې څخه دی چې په بیلابیلو سیاسي ډلو کې دیر د احترام وړ شخصیت دی. د هغه مخالفین او طرفداران ورته ډیر اهمیت ورکوي. ښاغلی رفعت د ۱۳۶۵ کال په پای کې د متحد ملي شورا یو تن بنسټ ایښودونکی و. په دغه شورا کې د رفعت په څیر ځینو وتلو نورو شخصیتونو هم ګډون درلود او ترڅنګ یې د پنځوسو سیاسي حزبونو او مدني ټولونو څخه جوړ شوی دی. ښاغلی رفعت پرله پسې دوځلې د نوموړي شورا انتخابي رییس ټاکل شوی دی . د سیاسي چارو د کارپوهانو په اند، رفعت و توانید چې د خپل ریاست په موده کې دغه ټولنه د یو هدفمند او پیاوړي سیاسی ګوند په توګه د افغانستان په سیاسي ډګر کې شهرت ته ورسوي.

یوکال کیږي چې ښاغلی رفعت د دغه شورا سره همکاري نلري ،خو د یو سیاسي چارو کارپوه او یو سیاسی منتقد په توګه ټاکل شوی دی.

ښاغلی احمد ضیا رفعت دا مهال د کابل پوهنتون د ژورنالیزم د پوهنځي استاد دی. او د نوموړي څو د شعر کتابونه لکه: هماغه یوسف هماغه بازار، د خیابان تر څنګ، کوچنی شعر لوی درد ، بن بست او په لسګونو مقالې د ادبیات پیژندنې او سیاست په برخه کې چاپ ته رسیدلي دي . د ښاغلي رفعت دغه کتابونه چاپ ته چمتو دي : هنري نظریات ، د امیر علي شیر نوایي د دري شعرونو څیړل او هنري نقد.